AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت

۲۰۲۲/۰۱/۰۶

# ستا یادونه

د یـادونو سلسلي دي په خـوبـونـو کـي مـي تـمـي
سـتـرګی چـت تـه مـي نـیـولي تـرسبـا سپيده دمي

نن مي بـیا د زړه پـر کلي د یـادونو باران راغی
د مـرغـیـو پـه چـغـار کـي ولـولـي پُـر تـرنـمـي

ته له کوم کنډو پناه شوې او پر کوم مالت دې شپه ده
لـټـوم دي د پـښـو پـلـونـه چي پر کومه لاره سم يي

کـوز د خـوړ پـر ښویو تـیـګو به پښه مي لړیدله
تـیـندکونو تـه اوبـو کـي بـه ولاړ تـه په هردم یـي

ګلورین وو ګلګڅونه، چي نړدي وو زموږ زړونه
اوس له هسکه يي لمر تللي، پرې ولاړ مدام تورتم يي

پـر ټـیـونـو د یـو بل چي جـوګـه نه شـو د مـرهـم
د ښکاري ګوزار رسا شو چي اخته داسي په غم يي

د خـپـلـوی او نـږدیوالي له دې حسـه چي پردي شو
د غلیم نښه په ځای شوه، په دې موږ په خپله ګرم يي

ځل د مینې که څرک وکړ، نو ويده زړونه به ويښ شي
په هر سپوږ يي، محبت کي انتظار لره لوي زغم یي

د سـهـار ښاپـیـری زیـری د رنـا بـه راتـه راوړی
ګرنګونه تر شا پريږده، راځه ته مي خپل همـدم يي

د خپل کور پر سمسور بڼ بـه وريـده د مـيـنـي پـرخـه
اوس د بل په کور، کاله کي وچ کلک قانون ته تم يي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ